عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۰٤/۲۱

# موږ ګټلي دي جنګونه

له یوه میدانه وزو بل میدان ته ور ګډیږو
موږ ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
د نیکه نکل روان وي چي پلار تاو کړي خپل برېتونه
لا د پلار کیسه توده وي چي زوی خپل کوي نکلونه
ماشوم ویني په قلا کي توري، غشي، توپکونه
له یوې توري تر بلي د منزل پر لور خوځیږو
موږ ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
نه منزل چاته معلوم دی چیري ځو پر کومه لار ځو
د نیکه وصیت مو خوښ دی که پر لاره به د پلار ځو
پر خپل ځان باندي تاویږو بس په رسم د پرکار ځو
چي منزل له ټولو ورک وي کومي لاري ته سمیږو
موږ ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
د سرېیو غلبلي سي انګولا سي د لېوانو
په تیاره کي ټکهار سي پلټن راسي د ښکاریانو
سهار ډکه هدیره سي له زلمیو شهیدانو
قوماندان وایي بری دی ځو پر لنډه لار رسیږو
موږ ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
نوې ورځ نوی هیواد سي نوي نوي پلټنونه
نوې لار نوی قانون سي نوي نوي بیرغونه
وایي مات مو خاینان کړل اوس به تښتي تور مخونه
بس همدا مو وروستی جنګ سو په بري به هوسیږو
موږ ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
چي خالق یو پیدا کړي پر کهاله د انسانانو
زموږ فطرت یې دی جوړ کړی له پسونو له لېوانو
د لېوه له داړو تښتو تر چړو د قصابانو
یا غازیان یا شهیدان یو په دې دوه نومه نازیږو


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

مور ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
چي هر نوی کفن کښ وي مور لاس پورته په ښرا یو
د زړو کفن کښانو د نیکونو په دعا یو
له ازله تر ابده په همدې رنځ مبتلا یو
نه حبیب سته نه طبیب سته نه له دې رنځه جوړیږو
مور ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
زمور په برخه چي راغلي دښمني او عداوت وي
چي په ختم مو اغړلي ناپوهي او جهالت وي
ورور په وینو لمبولی نښانه د شجاعت وي
د خیالي رباب شرنګی دی تر قیامته په غولیږو
مور ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
هر ګړی نوی شهید وي هر ساعت د کوندو ساندي
هره ورځ لکه پسونه کبابیږو لاندي باندي
مور به فخر په تاریخ کړو پرېږده زوړ غلیم دي خاندي
د میوند لنډۍ به وایو له تاریخ سره نخیږو
مور ګټلی دي جنګونه تر ابده به جنګیږو
چي تر څو دا جهالت وي چي تر څو همدغه قام وي
چي په زړو کي دښمنی وي چي له وروره انتقام وي
شمله جګه وي ور پاته د وختونو به غلام وي
نه بیرغ نه به قانون وي نه پر نوم سره جوړیږو
مور ګټلي دي جنګونه تر ابده به جنګیږو

د ۲۰۲۲ کال د اپریل شلمه، ویرجینیا.



برای مطالب دیگر عبدالباری جهانی روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com